مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۲۰۲۱ / ۰۴ / ۲۷

انسان او پوهه

انسان پورته شو د پوهې په کمند
موږ تر اوسه یوو په دم تعویذ کې بند
غلامی نه به د جهل ازاد نه شو
چې ساتو کور کې ملا د دېوبند
څه ګیله به د ښه ژوند په دنیا وکړو
چې ټول ژوند یوو خرافاتو ته پابند
راځی لیرې زولنې کړو، ځان ازاد کړو
چې ملا پرې یوو تړلی بند په بند
ژوند د هغه انسانانو تغیر نه خوري
چې په هڅه، په تغیر نه وي د ژوند
دا د ویښو ملتو د ژوندون راز دی
نصیحت دی، لاربښوونه ده هم پند

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ